**بسم الله الرحمن الرحيم**

## او خسران ادامه لري...

**خبر:**

د پاکستان دولت د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د رضایت ترلاسه کولو لپاره پر وارداتو د شته محدودیتونو د سمدستي لرې کولو اعلان کړی. د سوداګرۍ ټولنه او شنونکي په دغه باور دي، ترڅو د پیسو زېرمې ډکې نه شي، یوازې د دغو محدودیتونو لرې کول په عملي سوداګریزو فعالیتونو کې پام وړ بدلون نه شي راوستلی.

**تبصره:**

له کله چې پاکستان جوړ شوی، اقتصادي وضعیت يې بحراني دی او ورځ تر بلې د بېوزلۍ په دام کې ښکېلېږي. دغه فقر په حقیقت کې د هغو نا اهله او فریبکاره حکامو له لوري رامنځته شوی چې پر پاکستان او د دریمې نړۍ پر نورو هیوادونو واکمن دي. دغه هېوادونه تر استعمار او لوټ کېدو وروسته د پور په نامه د بېوزلۍ د دامونو له لارې په کنډوالو کې پرېښودل شول او دولت-ملت وضعیت پرې وتپل شو. په پاکستان کې پلی کېدونکی اقتصادي نظام پخپله د بېوزلۍ پیاوړي کوونکی څرخ رامنځته کوي. پاکستان په ۱۹۵۰م کال کې هغه وخت چې په مالي ستونزو کې راګیر و، د پیسو له نړیوال صندوق سره یوځای شو. پاکستان لومړنی هیواد و چې په ۱۹۵۸م کال کې يې د پیسو له نړیوال صندوق څخه د مرستې غوښتنه وکړه. که ډیموکراسي وه که پوځي، سیکولر یا محافظه کاره حکومت؛ ټولو د پیسو نړیوال صندوق پر وړاندې د تعظیم سر ټیټ کړ. تر ایوب وروسته هر حاکم دغه تګلاره خپله کړه او هېڅکله ونه دربده؛ خلکو ته د دغې تګلارې پایله یوازې زیان و. د مالیې وزیر، اسحاق ډار د ۲۱۵ میلیارده روپیو تازه اضافي مالیاتو خبر ورکړی. د دغو مالیاتو بار د بېوزله عامو خلکو پر اوږو بارېږي. شتمن او با نفوذه کسان ترې تېښتي یا یې کمه برخه ورکوي. په هیواد کې د خوراکي توکو بیې لوړې شوې او انفلاسیون اوج ته رسیدلی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**لا ضرر و لا ضرار**» «زیان رسول او زیان منل په اسلام کې نه شته». تر دې وړاندې د پاکستان لومړي وزیر، شهباز شریف د ۲۰۲۳م کال په پیل کې ویلي وو چې "د پیسو له نړیوال صندوق سره د موافقې لپاره چې کوم شرطونه ایښودل شوي دي، له تصور څخه بهر دي، خو موږ یې منلو ته اړ یو." په روان ۲۰۲۳م کال کې د پاکستان د تاسیس ۷۶ کاله پوره شول؛ خو موږ له ټولنیز، اخلاقي، فکري او اقتصادي اړخونو د ډېر شاته‌والي شاهدان یو. د دغه انحطاط یو لامل دا دی چې د پاکستان د رامنځته کېدو د مفکورې پیروي نه کوو؛ هغه مفکوره د اسلام د ایډیالوژۍ پر بنسټ د داسې دولت جوړول وو چې تر ډېره د اسلامي

امت د ټولو پاشلو برخو چتر وي. د نیمې وچې مسلمانانو ښایي فزیکي خپلواکي تر لاسه کړې وي او یو ځای یې داسې ځای ته کډه کړې وې چې ډېرى اوسېدونکي یې مسلمانان دي؛ خو خبره تر دې وړاندې لاړه نه شوه. په پایله کې دا دولت - ملت د مسلمانانو لپاره په داسې زندان بدل شو چې په هغه کې د اسانتیاوو برابرولو لپاره د توکو بیې د هغه چا لخوا ټاکل کېږي چې دا حالت یې راباندې راوستی. نو پاکستان اوس ښایي د پانګوالۍ ځواکونه تسهیل کړي؛ خو داسې ایډیولوژي نه لري چې پیروي یې وکړي. پانګوال اقتصادي نظام یوازې یوه موخه لري؛ د ټول هېواد د شتمنۍ لوړول، د امکان تر حده لوړې کچې ته د تولید رسول او خلکو ته په لوړه کچه تجملات برابرول. د اوسني پانګوال نظام تر سیوري لاندې، د پیسو نړیوال صندوق په څېر سازمانونه د دریمې نړۍ هیوادونو ته په داسې بڼه پورونه ورکوي چې هېڅکله یې د بېرته ورکولو وس نه لري؛ له دې لارې دغه هېوادونه خپل غلامان کوي او دا د دغو سازمانونو د عاید سرچینه ده. د پیسو نړیوال صندوق یو سیاسي سازمان دی چې د غړو هیوادونو له لوري ټاکل شوي سیاسي کسان یې اداره کوي او د پرېکړو کولو پر وخت د غړو هېوادونو سیاسي ګټې په پام کې نیسي. ځکه خو وینو چې د پیسو نړیوال صندوق د امریکا د بهرني سیاست د وسیلې په توګه کار کوي.

د اسلام اقتصادي سیاست له اسلامي شریعت (قرآن او سنتو) څخه اخیستل شوی دی چې برى او ناکامي یې د ګټې او زیان له مخې نه سنجول کېږي. د سنجولو لپاره یې د حلال او حرام معیارونه دي؛ د شتمنۍ پر وېش تمرکز کوي او احتکار منع کوي. د شتمنۍ څرخېدل د خلکو لپاره د هوساینې او فرصتونو برابرېدو لامل کېږي.

اسلامي خاورې باید له اسلامي عقیدې څخه اخیستل شوی اقتصادي سیاست جوړ کړي. بل هر اقتصادي سیاست نیمګړی دی، چې نه یوازې د اقتصادي ثبات لپاره ګټه نه لري، بلکې د اسلام خلاف عمل او د الله سبحانه وتعالی له امر څخه سرغړونه ده. د اسلام د اقتصادي سیاست د نه پلي کولو په پایله کې اقتصادي ستونزې ډېرېږي، خلک بېوزله کېږي او ستونزې دوام پیدا کوي؛ نو د اسلامي خاورو اقتصادي سیاست باید د تل لپاره اسلامي اقتصادي سیاست وي. د نبوت پر منهج د خلافت تاسیس له مسلمانانو سره مرسته کوي چې خپل ورک شوی عزت او وقار بیرته ومومي. موږ باید په یاد ولرو چې بریا مو د الله سبحانه وتعالی په پیروۍ پورې تړلې؛ باید د داسې اقدام په اړه فکر ونه کړو چې په هماغه لحظه کې ژوند کولو کې مرسته راسره وکړي خو د الله د قهر لور ته مو بوزي. موږ، د پاکستان مسلمانان نور فرېب نه خورو او نه غواړو چې د پیسو نړیوال صندوق د هر راز معاملې لپاره قرباني شو.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾**

**ژباړه:** «الله تعالی ستاسو له هغو کسانو سره چې ایمان راوړي او نېک عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی به پر ځمکه هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک یې ګرځولي وو...»
[نور: ۵۵]

**د حزب التحریر - مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: اخلاق جهان**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذوالحجې ۱۱مه**

**۲۰۲۳م کال، پنجشنبه د جون ۲۹مه**

**ژباړه: فریدون محتاط**